شتمنی
SHTAMANAI

چهارشنبه | ۷ ذوالحجه ۱٤٤۳ / ۱٥ سرطان ۱٤۰۱ | ٦ جولای ۲۰۲۲ | سال اول | شماره ۲۳ | ٤ صفحه

١

**نبوي حديث:**

له حضرت ابوسعيد خُدري رضى الله عنه څخه روايت دئ، چي رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: رښتونی او امانتدار سوداگر به د پېغمبرانو، صديقينو او شهيدانو سره وي.

(رواه الترمذي، مشكاة المصابيح: ص، ۲۴۳)

سرمقاله

## قرباني د بريا پيلامه ده

اخترونه د اسلامي نړۍ په ځانګړي توګه د مسلمانانو هغه ورځي دي، چي د نفرت او نفاق پردې له منځه وړي، ورورولي رامنځته کوي او د اسلامي نړۍ په ټولنو کي خلک يو بل ته ډالۍ ور وړي، مبارکۍ ورکوي، د يوه بل کورونو ته ورځي، د ناروغانو خاص عيادت کوي او په ټوله کي د مينې او اخوت فضا رامنځته کوي. په اخترونو کي د لوی اختر يا قرباني اختر بيا په دې غوره والي لري، چي يوه ورځ مخکي د عرفات مبارکه ورځ وي، حاجيان د بيت الله ديدار کوي، د طواف او توبې مزلونه وهي او ټول مسلمانان يوه مهمه فريضه ادا کوي او په ميليونونو قربانۍ کېږي. ګران افغانستان هم الحمدالله د نړۍ له معتبرو اسلامي هيوادونو څخه دئ، چي دغه مبارکي ورځي په نېکمرغيو او خوشحاليو پکښي نمانځل کېږي، د دينوي ارزښتونو ترڅنګ ګڼ دوديز او کلتوري ارزښتونه هم پکښي په پراخه پيمانه نمانځل کېږي. د څه له پاسه شلو کلونو را وروسته د اسلامي امارت په چوکاټ او واک کي دا لومړنی لوی اختر دئ، چي په ټول افغانستان کي په بشپړ امنيت، خپلواکي او له هر راز امنيتي پېښي پرته نمانځل کېږي. که څه هم مخکي کي زموږ غمونو او ناخوالو ځپلی هيواد له يوه بل الهي افت سره مخ سو، چي په پکتيکا، خوست او يو شمېر نورو ولايتونو کي د زلزلې زوروري ځپې زموږ په زرګونو هيوادوال شهيدان، ټپيان او بې کوره کړل. (موږ شهيدانو ته برين جنت، ټپيانو ته بېړنۍ روغتيا او د کورنيو پاتي غړو ته يې د الله سبحان وتعالی له ستر دربار څخه د جميل صبر غوښتنه کوو). د دې ترڅنګ د هيواد په ښه راتلونکي، پرمختګونو او ديني ارزښتونو په ساتلو او د ټولو قومونو ترمنځ د ورورولۍ په ټينګولو د افغانستان د جيدو علماوو درې ورځنۍ ستره ناسته ترسره سوه، چي هيله ده پايلې يې د هيواد د ابادۍ، سوکالۍ، ځان بسياني او په نړيواله کچه د با ثباته افغانستان را څرګنديدل سي. خو تر ټولو غوره خبره دا، چي د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړې توګه د ماليې وزارت د ۱۴۰۱ کال لپاره يو کلنه بوديجه چي څه له پاسه (۲۳۱) ميلياره افغانۍ کېږي او په دې کې (۲۷) ميلياره يې پراختيايي بوديجه وه پرته له کومي بهرنۍ مرستي په نړيوالو معيارونو او سټنډرډ، د راتلونکو څو کلنو لپاره د عوايدو وړاندويني، د ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ کلنو لپاره د کورنيو ناخالصو توليداتو وړاندويني، د ۱۴۰۱ مالي کال بوديجه کي د څو کلنو لپاره د ډالر په وړاندي د افغانيو د ارزښت څرګنوالي، د مالي خطرونو منعکسولو او مالي لرليد په پام کي نيولو سره ترتيب کړي. د روان لمريز کال په بوديجه کې زياته سلنه عادي بوديجه جوړوي، خو بيا هم تر يوه حده پراختيايي بوديجې ته پاملرنه سوې ده. او ترڅنګ يې د ټولو دولتي مامورينو د مياشتنيو معاشونو بهير خپل عادي حالت ته راوګرځېدل او اوس ټول دولتي کارکوونکي په مياشتني او خپل ټاکلي وخت کي معاشونه ترلاسه کوي. د ماليې وزارت رهبري نړيوالو بازارنونو ته په کتو سره د ډېرو سکرو بيه له يوه ټن په ۹۰ افغانۍ څخه ۲۰۰ افغانيو ته لوړه کړه، چي دغه کار د خلکو له تود هر کلي سره مخ او ترڅنګ به د هيواد د ملي عوايدو په زياتوالي کي رغنده رول ولوبوي. د موضوع د را ټولېدو په پلمه د ماليې وزارت رهبري، غړي او کار کوونکي ټولو هيوادوالو ته د لوی اختر مبارکي وايي او له ستر څښتن تعالی څخه هيله لري، چي قربانۍ او د هيواد د پرمختګ لپاره مو ټولي کړني او زيارونه د الله په عظيم دربار کي قبول سي. قرباني د بريا پيلامه ده (د اختر قرباني به مو د الله لوري ته بريالي او د هيواد لپاره قرباني به مو په نړۍ کي سيال کړي).

## د لوی اختر د رارسېدو په مناسبت د ماليې وزير پيغام!




د نېکمرغه لوی اختر د را رسېدو په مناسبت د افغانستان اسلامي امارت فضيلتماب اميرالمؤمنين (حفظه الله) جلالتماب رئيس الوزراء، جناب مرستيالانو، د افغانستان متدين او سر لوړي ملت او د دې نظام د بقاء او ساتني ټولو مجاهدينو ته مبارکي وړاندي کوم او تر څنګ يې په دې وروستيو کي د پکتيکا، خوست او نورو ولايتونو د غميزې شهيدانو ته فردوس جنت، ټپيانو ته بېړنۍ روغتيا او د کورنيو پاتي غړو ته جميل صبر غوښتونکی يم.

**درنو هيوادوالو!**

قربانۍ او د دې هيواد د ابادۍ پر لوري هر عمل مو د الله سبحان و تعال په عظيم دربار کي قبول او منظور وګرځه. موږ د افغانستان د مالي خپلواکۍ او ځان بسيايني په موخه تر بل هر وخت چټک ګامونه اخلو، شفاف عوايد را ټولوو او د ۱۴۰۱ کال لپاره نا پېيلې ملي بوديجه لرو، د ماليې وزارت رهبري د هيواد په کچه د ملي بوديجې غوره پلي کولو او د بې ځايه لګښتونو مهارولو ته ژمنه ده.

د سوکاله، پر خپلو عوايدو غني او مالي ځانبسيا افغانستان په هيله

---

## رياست عمومی تفتيش داخلی گذارش سفر های ولايتی خويش را با مقام وزارت ماليه شريک ساخت



رياست عمومی تفتيش داخلی وزارت ماليه گذارش گمرکات و مستوفيت های ولايات هرات، نيمروز، فراه و بادغيس را با رهبری وزارت ماليه شريک ساخت.

در اين نشست ملا هدايت الله بدری، وزير ماليه، الحاج ملا محمد ناصر آخند، معين عوايد و گمرکات، مفتی عبدالمتين سعيد، رئيس عمومی گمرکات و شماری از رؤسای ادارات مربوطه اشتراک داشتند.

رياست عمومی تفتيشداخلی، به منظور ارزيابی گمرکات و مستوفيت های ياد شده، مشکلات تجار در گمرکات، پروسه طی مراحل اموال گمرکی، فعاليت سيستم ها، موجوديت اشخاص مسلکی، اسناد اموال تجارتی، موجوديت فساد، کاهش تعرفه و چگونگی تجارت با کشور های همسايه و در رابطه به مشکلات موجود، گذارش جامع را با مقام وزارت شريک ساختند.

ملا هدايت الله بدری، وزير ماليه، بعد از استماع گذارش، به منظور حل مشکلات موجوده در گمرکات و مستوفيت های ياد شده، توصيه نمود، که اين گذارش با رياست عمومی گمرکات به شکل کتبی شريک ساخته تا اين رياست به منظور حل و رسيدگی به مشکلات موجوده يک پلان منظم بسازد.



**نشست تخنيکی غرض ارزيابی گمرکات تدوير يافت**

م ۲



**د کورنۍ پلټني لوی رئيس له هرات، بادغيس، فراه او نيمروز ولايتونو څخه ليدنه وکړه**

م ۲



**افغانستان او ايران ترمنځ په ګمرکي برخو کي مهمي هوکړې وسوې**

م ۲



**د امنيت شتون د پانګوالو د زياتې علاقمندۍ سبب ګرځېدلی**

م ۳



**نقش شرکت های دولتی در درآمدزائی دولت**

م ٤

# نشست تخنیکی غرض ارزیابی گمرکات تدویر یافت

نشست تخنیکی غرض ارزیابی گمرکات به ریاست ملا محمد ناصر آخند، معین عواید و گمرکات و اشتراك مفتی عبدالمتین سعید، سرپرست ریاست عمومی گمرکات، معاونین این ریاست و مسؤلین گمرکات ولایتی در تالار جلسات این معینیت تدویر یافت.
در آغاز این نشست از سوی ریاست پلان، پالیسي و ارزیابی ریاست عمومي



گمرکات راپور فعالیت های ماه جوزا و ربع اول سال مالی ۱۴۰۱ و ارقام مقایسوي عواید جمع آوري شده نسبت به گذشته شریك و ارایه گردید، که در نتیجه افزایش عواید گمرکی، شفافیت و پیشرفت قابل ملاحظه در امورات مربوطه را نشان داد.
متعاقباً مفتی عبدالمتین سعید، سرپرست ریاست عمومی گمرکات در سخنان خویش از تلاش های صادقانه تمام مسؤلین گمرکات سپاس گذاری نموده و افزود، که با این تلاش های صادقانه شما به زودترین فرصت کشور به خودکفایي اقتصادی خواهد رسید.
الحاج ملا محمد ناصر آخند، معین عواید و گمرکات بابت شفافیت در گمرکات و افزایش عواید از رؤسای گمرکات سپاس گذاری نموده و افزود که؛ تلاش های صادقانه مسؤلین نتیجه مثبت را به بار آورده است، که شفافیت در امور گمرکی و افزایش عواید یک نمونه بهتر آن است.
الحاج ملا محمد ناصر آخند به تمام رؤسای گمرکات خاطر نشان ساخت، که به منظور پیشرفت بهتر امور یک فضای اعتماد کامل میان مسولین را ایجاد کنند و امورات را بر اساس مسلك برای شان بسپارند.
در پایان این نشست رؤسای گمرکات به منظور بهتر شدن امور، پیشنهاد ها خود را شریک ساخته که بعداً از سوی الحاج ملا محمد ناصر آخند، معین عواید و گمرکات به منظور شفافیت بیشتر در امور برای ایشان توصیه های لازم ارائه نمود.
قابل یاد آوریست، که به منظور ارائه خدمات بهتر به شماری از رؤسای گمرکات تقدیرنامه ها نیز عطا گردید.

# د مالیې وزارت عوایدو لوی رئیس د عینک د مسو کان د قراردادي کمپنۍ له استازو سره ولیدل

د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس معراج محمد معراج په خپل کاري دفتر کې د عینك د مسو کان د قراردادي استخراجي کمپنۍ له استازو سره ولیدل او د اړوند استخراجي کان د مالیاتو په اړوند یې هر اړخیزې خبرې ورسره وکړې.
آغلې ژانګ قي چې د دغه پلاوي مشري یې کوله، په خپلو خبرو کې وویل: موږ خوښ یوو چې د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست له مسولینو سره له نږدې ګورو او ډېره ښه سوه، چې د عینك د مسو کان د مالیاتو په تړاو مو بحثونه وکړل او ستاسي د ډاډګېرنو ډېره مننه کوو.
د عوایدو لوی رئیس معراج په خپلو خبرو کې وویل: تر بل هر وخت په افغانستان کې د پانګوني لپاره زمینه برابره سوې ده، امنیت خوندي دئ، هر څوك په ډاډه زړه اوس خپل کاروبار کولای سي. زموږ هڅه دا ده، چې د خپلو مالیه ورکوونکو او مراجعینو لپاره د مالیاتي چارو د چټکتیا په موخه په قوانینو، طرزالعملونو، لارښوونو او نورو اړوندو مسئلو کې اړیني اسانتیاوي برابرې کړو، چې پانګوال راسي او دلته پانګونه وکړي.
د یادوني وړ ده، چې په دغه لیدنه کې د مالیې وزیر سلاکار نجیب الله احمدزي، د عوایدو لوی ریاست تخنیکي مرستیال عبدالولي نوري، د لویو مالیه ورکوونکو رئیس عبدالقیوم نصیر، د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ رئیس ندا محمد صدیقي او نورو مسؤلینو ګډون کړی وو.




# د کورنۍ پلټني لوی رئیس له هرات، بادغیس، فراه او نیمروز ولایتونو څخه لیدنه وکړه



د مالیې وزارت د کورنۍ پلټني لوی رئیس انجنیر عبداللطیف خالد په مشرۍ د دې ریاست یو پلاوي د چارو د کتني او ارزوني په موخه د هرات ولایت مستوفیت، د اسلام کلا او تورغونډۍ ګمرکونو، د بادغیس ولایت له مستوفیت، د فراه او نیمروز ولایتونو له ګمرکونو، مستوفیتونو او د دغو ادارو له اړونده دفترونو څخه لیدنه وکړه.
د کورنۍ پلټني لوی رئیس وویل: د مالیې وزارت مشرتابه د حکم پر بنسټ د پلټني سپارښتنو د تطبیق د څار په موخه د کورنۍ پلټني لوی ریاست په چوکاټ کې یوه باصلاحیته کمیټه رامنځته سوې، چې په دوامداره توګه به د پلټونکو له لوري د ورکړل سوو سپارښتنو تطبیق څاري او د نه تطبیق په صورت کې به موضوع د وزارت مقام سره شریک کوي، نو پر همدې اساس اداري مکلفي دي چې د پلټني سپارښتني تطبیق او د وزارت مقام سره ئې راپور شریک کړي.
د یادوني وړ ده، چې د کورنۍ پلټني لوی رئیس د یادو ولایتونو د مسئولینو کاري راپوروونه، ستونزي او غوښتني واورېدې او ډاډ ورکړ، چې د دوی ستونزي او غوښتني به ډېر ژر د مالیې وزارت له رهبرۍ سره شریکې کړي.

# د افغانستان او ایران ترمنځ په ګمرکي برخو کي مهمي هوکړي وسوې

د شیخ ابو نصر فراهي سوداګریز بندر کې د افغانستان اسلامي امارت او د ایران اسلامي جمهوریت د مسؤلینو ترمنځ د دوه اړخیزو سوداګریزو اړیکو د لا ښه والي په موخه ناسته وسوه، چې په پایله کې پر لاندې مواردو هوکړه وسوه:
۱: ټول هغه ټرازیټي اموال، چې د چاه بهار او بندر عباس له لارو د شیخ ابو نصر فراهي بندر ته لیږدول کیږي له دې وروسته به د کوم ممانعت پرته د شیخ ابو نصر فراهي بندر له لاري افغانستان ته صادریږي.
۲: ټول سوداګریز توکي باید اصلي منل سوي جوازونه ولري.
۳: په هغه صورت کې چې سوداګریز توکي د فراه ولایت د ګمرک ریاست او د نورم استهړد اداري له لوري بې کیفیت وپېژندل سي؛ توکي باید دوباره وګرځول سي او د ماهیرود مرزي مسؤلین دې په دې تړاو همکاري وکړي.



۴: د سوداګرو اړتیاوو ته په کتو د افغانستان ۶۰۰ باربري (ټیلر) موټرو، تګ راتګ ته دې د رسمي او تراشیپ اصولو په اساس اجازه ورکول سي.
۵: له افغان او ایراني وګړو سره دې د دواړو هیوادونو خارو ته د تګ په صورت کې ښه چلند وسي.
د یادوني وړ ده، چې پورته پرېکړې د دواړو هیوادونو د مسؤلینو له لوري ومنل سوې او هوکړه وسوه، چې دواړه خواوې به هوکړو ته ژمن پاتیږي.

# د څلورمې دورې مالیاتي محاسبینو څخه ازموینه واخیستل سوه



د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو اکاډمۍ کې د څلورمې دورې مالیاتي محاسبینو څخه ازموینه واخیستل سوه
په همدې موخه د ګمرکونو او عوایدو آګاډمي کې غونډه جوړه سوې وه، چې پکښې د عوایدو لوی رئیس معراج محمد معراج، د عوایدو دحقوقي چارو رئیس ندا محمد صدیقي، د عوایدو تخنیکي مرستیال عبدالولي نوري، د اړیکو او عامه پوهاوي رئیس احمد ولي حقمل او (۱۲۲) مالیاتي محاسبینو ګډون کړی وو.
معراج محمد معراج مالیاتي محاسبین د مالیې د راټولولو په برخه کې یو ستر قوت وباله او وې ویل: د مالیاتي محاسبینو په مټ به مالیه په شفافه توګه را ټولیږي او د مالیې له تیښتې څخه به مخنیوی کیږي او د دوی د صادقانه هڅو په نتیجه کې به عادي او پراختیایي ملي بودیجه بشپړیږي.
ښاغلي معراج مالیه د دولت قانوني حق وباله او ددې حق د ترلاسه کولو په برخه کې یې د مالیاتي محاسبینو رول مهم وګڼل او وې ویل: چې مالیاتي محاسبین باید هیواد ته د ژمنتیا، وړتیا، رښتینولۍ او د پاك احساس په شرایطو سمبال وي.
معراج محمد معراج د عوایدو لوي ریاست له لوري مالیاتي محاسبینو ته د پوره ملاتړ او همکارۍ ډاډ ورکړ.
عبدالولی نوري وویل: چې مالیاتي محاسبین د مالیاتي ادارو او مالیه ورکوونکي ترمنځ د اړیکو جوړونکو په توګه کار کوي او په دې برخه کې بایدبې پرې پاتي سي. نومړي د مالیاتي محاسبینو لپاره وړتیا، تقوا او امانتداري درلودل اړین شرایط وبلل.
د عوایدو د حقوقي چارو رئیس ندا محمد صدیقي له مالیاتي محاسبینو څخه د ازمونې د اخیستلو په تړاو معلومات ورکړل، ټینګار یې وکړ او ډاډ یې ورکړ، چې ازموینه به د بشپړ شفافیت په رڼا کې اخیستل کیږي.

# مالیې وزارت کې د وګړو د جلب او جذب لپاره تر خدمت وړاندې روزني مقدماتي ناسته ترسره سوه



د مالیې وزارت د مستوفیت، مالي آمرینو او عوایدو برخه کې د وګړو د جلب او جذب لپاره تر خدمت وړاندې مقدماتي ناسته په مالیې وزارت کې ترسره سوه.
په دغه ناسته کې چې د مالیې وزارت اړوندو اداراتو رئیسانو ګډون درلود، د روزنیز نصاب او وخت ټاکني پر څرنګوالي بحث او خبرې وسوې. په دغه ناسته کې پرېکړه وسوه، چې اړوند اداري دې خپل روزنیز نصاب او درسي مهالویش راتلونکو نږدې ورځو کې د مالیې وزارت له رهبرۍ سره د مشورې او د اړینو پرېکړو په موخه د دفتر لوی ریاست ته ور وسپاري.

شتمني
SHTAMANAI

# د امنیت شتون د پانګوالو د زیاتې علاقمندۍ سبب ګرځېدلی

لیکنه: لعل ځاځی



د څلورو لسیزو راهیسې په ټوله نړۍ کې افغانستان هغه هېواد وو، چې ترټولو زیاتې جګړې پکې وشوې او میلیونونه کسان یې ووژل. د سلګونو میلیاردونو امریکایي ډالرو په ارزښت پکې تاسیسات له منځه لاړل، میلیونونه کسان پکې معیوب او له شپږو میلیونو ډېر یې مهاجر شول. زه یوه عادي بېلګه د زېربنایي تاسیساتو درکوم، چې له ۲۰۰۱ میلادي کال وړاندې د ۲۴۰ میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت یاد تاسیسات له منځه لاړل. حکومت په ټوله جغرافیه واک نه درلود هماغه وو، چې کارونه یې ناکامه ثابتېدل. په تېرو دوو لسیزو کې د زیاتې جګړې له امله میلیونونو کسانو له ځان سره د میلیاردونو ډالرو په ارزښت پانګې له افغانستان څخه وویستلې. اوسمهال کله چې اسلامي امارت حاکم شوی په ټول افغانستان کې امنیت راغلی دی او د یو مرکزي حکومت تر چتر لاندې په ټوله جغرافیه باندې بشپړ حاکمیت لري. اوسمهال جګړې نشته، په هېواد کې یوه ارامه فضاء رامنځته شوې ده. د غلا په کچه کې ډېر کموالی راغلی، د سوداګرو او صنعت کارانو د غلا او اختطاف په کچه کې زیات کموالی لېدل کېږي. مخکې به هر سوداګر او پانګوال د خپل ځان، کورنۍ او شتمنۍ د ساتلو لپاره له ٪۱۵ نېولې تر ٪۲۵ پیسې د خپل امنیت د ساتلو په خاطر لګولې، چې اوس دا برخه پیسې نه مصرفېږي؛ بلکې پانګوال په ډاډه زړه ژوند کوي. په تېر کې دوی قیمتي ذرو موټرو او د ګاردانو لګښتونه زیات وو، مهمه دا چې دوی نشوای کولای چې له یو ځای څخه بل ځای ته لاړ شي؛ ځکه چې اوس موږ وینو چې په یو عادي موټر کې یوازې هم ګرځېدلای شي. د دوی د کورنۍ غړي به تل په خطر کې وو، له کوره بېرون ته نشوای تللای، د کور د ساتلو لپاره یې امنیتي کسان ګومارل، چې اوس په دې برخه کې اعتماد رامنځته شوی دی. د غلا کچه ډېره لوړه وه، د دوی شتمني هر وخت به په خطر کې وه، مهمه دا چې د پیسو په مقابل کې به له دوی څخه د کورنۍ غړي غلا کېدل، چې دا برخه یې ډېره دردوونکې وه. همدا وجه وه، چې اکثرو پانګوالو د ځان او کورنۍ غړو د ساتلو لپاره بهر ته لاړل؛ ترڅو ځان یو محفوظ ځای ته ورسوي. پانګوالو، سوداګرو او عام ولس ته د ناامنۍ او غلا د شتون له کبله رواني وېره رامنځته شوې وه، که ستونزه به موجوده هم نه وه، دوی به سخت ډارېدل او په سختۍ یې له کور څخه بهر ته د تللو تکل کاوه. له بلې خوا که یوه سوداګر غوښتل چې له یو ځای څخه بل ځای ته خپل سوداګریز توکي ولېږدوي، په لاره کې به د دوی مالونو څخه په غیر قانوني توګه د سېمه ییزو زور واکو لخوا پیسې اخېستل کېدلې. دغه ستونزې یوازې په مشخصو سېمو کې موجودې نه وې؛ بلکې د هېواد په اکثرو لویو او وړو لارو کې له دوی څخه سېمه ییزو زور واکو پیسې اخېستلې. کله چې له مزار نه کابل ته راتللې لسګونه ځایه به له موټر چلوونکو څخه پیسې اخېستل کېدلې، که وربه یې نکړې؛ نو وهل یې ورکول. په تېر دولت کې یو مشخص ځای کې به چې یو ځل په قانوني ډول پیسې ورکړل شوې، له دې سره د موټر چلوونکو یا سوداګرو کومه ستونزه نه درلوده؛ مګر دا چې څو ځلې په مختلفو ځایونو کې اخیستل کېدلې؛ نو سوداګر او موټر چلوونکي سخت ورسره په تکلیف وو.

د نن ورځې ښه خبر دا دی، چې دا زورواکي په بشپړه توګه له منځه تللي دي، په لویو لارو کې سوداګر او موټر چلوونکي پرته له کومه خنډه کولای شي، چې د یو ځای نه بل ځای ته د یو ځل قانوني پیسو په تحوېلولو سره مالونه ولېږدوي او د لېږد په لګښت کې یې کموالی راغلی دی. په تېر کې د امنیت د نشتون له وجې میلیاردونه ډالر پانګې له افغانستان څخه بېرون وویستل شو؛ مګر اوس امنیت تامین شوی او څومره چې ما د اسلامي امارت د حکومت په جریان کې له پانګوالو او سوداګرو سره لېدلي، ډېر خوښ او خوشحاله دي. آن تر دې چې دوی هغه پانګوال بېرته دې ته هڅوي، چې له افغانستان څخه بېرون تللي دي، په افغانستان کې اوسمهال کې امنیت تامین شوی، امنیتي خنډونه له منځه تللي او پانګونې ته له بل هر وخت ښه زمینه برابره شوې ده. پانګوال کولای شي چې له دې موقع څخه استفاده وکړي او پانګونه وکړي.

## د کابل نړیوال هوايي ډګر د ګمرک خبرتیا!

ټولو محترمو دولتي ادارو، کورنیو مؤسسو، خصوصي شرکتونو او انفرادي وګړو ته، چې خپل توکي یې د تضمیني سندونو په نوم له ګمرک څخه ایستلي د ۱٤۰۱/٤/۲۳ نېټې پورې یې د ګمرکي پړاوونو ترسره کولو لپاره بېرته را ستنېدنه نه ده کړې، که چېرته د دې خبرتیا د خپرولو تر (۱٤۰۱/٤/۲۳) نېټې پورې د خپلو پاڼو د تصفیې لپاره حاضر نه سي یوزرونه به یې وتړل سي او ګمرکي فعالیتونه یې ځنډول کېږي. همدا رنګه ټولو دولتي ادارو، کورنیو مؤسسو، خصوصي شرکتونو او انفرادي وګړو ته، چې له تېرو کلونو او د (۱۳۹۹) کال تر وروستیو پوري د کابل نړیوال هوايي ډګر په ګمرک کې د خپلو موجودو توکو د ګمرکي پړاوونو ترسره کولو ته نه وي راغلي، خبر ورکول کېږي، چې ژر تر ژره د کابل نړیوال هوايي ډګر له ګمرک څخه د خپلو توکو د تسلیمۍ لپاره حاضر او ګمرکي پروسه ترسره کړي، له دې پرته تر (۱٤۰۱/٤/۲۳) نېټې پوري یې د ګمرک د قوانینو او مقررو مطابق ټول توکي لیلام ته وړاندې کېږي، بیا د شکایت حق نه لري.

## اعلان پروژه تهیه و تدارک سیستم برق سولری گمرک سپین بولدک کندهار

وزارت مالیه ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارک سیستم برق سولری گمرک سپین بولدک کندهار، اشتراك نموده و شرطنامه مربوط را در حافظه یا فلش دسک در مشاوریت تدارکات وزارت مالیه بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر تاریخ ۲ اسد ۱٤۰۱ به ریاست تدارکات وزارت مالیه واقع ناحیه ۲ پشتونستان وات ا رایه نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد. جلسه قبل از داوطلبی به تاریخ ۲۵/سرطان/۱٤۰۱ در زمان ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، در منزل دوم تعمیر معینیت اداری، آمریت تدارکات وزارت مالیه دایر میگردد. تضمین آفر بصورت تضمین بانکی مبلغ ۵۰۰,۰۰۰ )پنجصد هزار افغانی( بوده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۲ اسد ۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تدارکات تدویر می گردد.

## تهیه و تدارک قرطاسیه ریاست های مرکزی وزارت مالیه

وزارت مالیه ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نمایند تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارك قرطاسیه ریاست های مرکزی وزارت مالیه، اشتراك نموده و شرطنامه مربوطه را در حافظه یا فلش دسك از مشاوریت تدارکات وزارت مالیه بدست آورده، آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ ۵ سرطان الی تاریخ ۲٦ سرطان ۱٤۰۱ به ریاست تدارکات وزارت مالیه واقع ناحیه ۲ پشتونستان وات ارایه نمایند، آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد. جلسه قبل از داوطلبی به تاریخ ۱۵/سرطان/۱٤۰۱ در زمان ۱۰:۰۰ قبل از ظهر، در منزل دوم تعمیر معینیت اداری، آمریت تدارکات وزارت مالیه دایر میگردد. تضمین آفر بصورت تضمین بانکی مبلغ ۵۵۰,۰۰۰ ( پنجصد و پنجاه هزار افغانی (بوده و جلسه آفرگشایی به تاریخ ۲٦ سرطان ۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در آمریت تدارکات تدویر می گردد.

# اعلان داو طلبی

## تدارک وسایل تکنالوژی مورد ضرورت سیستم افمس ریاست عمومی خزاین

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(تدارك وسایل تکنالوژی مورد ضرورت سیستم افمس ریاست عمومی خزاین) دارای نمبر تشخیصیه ۰۷۷-G/۱٤۰۱/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۳/ سرطان /۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهرمیباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۱/ اسد/۱٤۰۱ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۱۱۰,۰۰۰ (یک صدو ده هزار) افغانی میباشد.

آدرس :وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.

## به اعلان سپردن ۳ جایداد واقع داخل محوطه پوهنتون کابل

قرار است ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه یك تعداد جایدادهای دولتی ذیل در مرکز را طور جداگانه بشکل آفر سربسته به اعلان داوطلبی سپرده شود که مشخصات آن قرار ذیل است.

۱-یک باب کفتریا به شمول ساحه سبز آن به مساحت(۳۹٦٤) مترمربع واقع داخل محوطه پوهنتون کابل ناحیه سوم.

۲-یک باب کانتین به مساحت ۱۳٤ مترمربع واقع جوار پوهنحی ادبیات پوهنتون کابل ناحیه سوم.

۳-یکباب کانتین به مساحت ۱۳٤ مترمربع وقع جوار پوهنحی شرعیات پوهنتون کابل ناحیه سوم.

اشخاص حقیقی وحکمی که خواهان اشتراك در پروسه داوطلبی جایداد های فوق را داشته باشند، می توانند از تاریخ ٦ سرطان الی مدت (۲۱) روز درخواستی های شان را به ریاست محترم عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ۱٤ منزله سینما پامیر، منزل هفتم مدیریت عمومی قراردادهای مرکز تسلیم نموده، وبعد از ملاحظه اسناد شرطنامه را دربدل مبلغ (۳۰۰۰) افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند.

شتمنی
SHTAMANAI

## د خوندي اسنادو د چاپ مطبوعې لپاره د مسلکي کارکوونکو د جذب ازموینه واخیستل سوه



په دغه ازموینه کي ۵۲۰ کسانو ګډون کړی وو، چي یوازي ۶۰ کسان به له بریالي کېدو وروسته د مسلکي زده کړو د شپږ میاشتنی او وروسته بیا دوه کلنۍ تخنیکي، مسلکي، نظري او عملي زده کړو ترلاسه کولو د خوندي اسنادو د چاپ مطبوعه کي په بېلا بیلو مسلکي برخوکي جذب سي.

د ماليې وزارت اړوند د خوندي اسنادو د چاپ مطبوعې عمومي رئیس دوکتور محمد خالد مروان وویل: د ازموینې او مسلکي زده کړو دغه بهیر یې د یادي مطبوعې لپاره د مسلکي اشخاصو د جذب په موخه په لاره اچولی دئ. نوموړي زیاته کړه، د دې علمي بهیر په بشپړیدو سره به د خوندي اسنادو د چاپ مطبوعې چاري لا چټکي سي، چي ورسره به په هېواد کي ټول اړین خوندي اسناد په دغه مطبوعه کي چاپیږي، چې بهر ته د پانګو له وتلو او د هیواد د اقتصادي ودي سبب به وګرځي. د یادوني وړ ده، چي د خوندي اسنادو د چاپ مطبوعه د هیواد او سیمي په کچه یوه تر ټولو د ښه تخنیکي امکاناتو درلودونکې مطبوعه ده او د ډېرو ارزښت لرونکو خوندي اسنادونو د چاپ وړتیا لري.

**د امتیاز خاوند:** د ماليې وزارت
**مسؤل مدیر:** احمد ولي حقمل
**مرستیال:** محمد نبي سلطاني
**کتنپلاوي:**
ندا محمد صدیقي
عبدالرحمن سجاد
ابراهیم ګران
اجمل زاهد
**د خبر مدیر:** داود نظري
**خبریال:** سید مصطفی سروش
**د معلوماتو راټولوونکی:** محمد افضل الکوزی
**عکاس:** فضل احمد یوسفزی
**ډیزاینر:** محمد نسیم ظهوري

**د ماليې وزارت د لاسته راوړنو، خبرونو، کنفرانسونو، خبرتیاوو، غونډو، داوطلبۍ اعلانونو، د املاکو د قراردادونو او نورو مالیاتي مسایلو څخه د خبریدا لپاره لاندي آدرسونه کتلای سئ:**

**ویبپاڼه:** mof.gov.af
**ټویټر:** @afghanistanmof
**یوټیوب:** afghanistan mof
**فیسبوک:** د ماليې وزارت، وزارت مالیه

# نقش شرکت های دولتی در درآمدزائی دولت

نویسنده
نظرمحمد «فروغ»

شرکت دولتی به آنعده از شرکت های گَفته می شود که دارای شخصیت جداگانه از مالکان سهام آن است و مطابق احکام قانون شرکت های دولتی تأسیس، دارای سرمایه مشخص و منقسم به سهام می باشد، مسئولیت هر سهامدار محدود به اندازه سهم وی می باشد و مالکیت حد اقل بیست و پنج ۲۵ درصد مربوط یکی از ادارات دولتی به شمول ادارات محلی باشد یا زمانیکه ادارات دولتی به شمول ادارات دولتی محلی بدون درنظرداشت سهم آنها در سرمایه شرکت بالای شرکت کنترول داشته باشند.

نخستین تصدی افغانستان مطابع آزادی می باشد ًکه در عهد امیر شیرعلی خان در سال ۱۲۹۰ تاسیس گردید که اخبار شمس النهار را به شکل لیتوگرافی (چاپ سنگی) به نشر می رسانید. که بعدها فعالیت تصدی ها در بخش های مختلف تسری پیدا نموده و آرام آرام توسعه و گسترش یافتند. تصدی ها در سابق دوران رشد و شکوفائی اقتصادی را می پیمودند و قبل از جنگ های داخلی می توانستند که تقریبا نصف بودجه دولت را تمویل نمایند. اما در سال های اخیر بنا بر نبود توجه و نداشتن استراتیژی مشخص در این بخش، سهم تصدی ها کاهش یافته و عواید حاصله از این بخش فقط می تواند که یک درصد بودجه ملی کشور را تمویل نماید.

با روی کار آمدن نظام جدید در کشور تلاش صورت گرفت تا مطابق به قانون شرکت های دولتی ۱۳۹۷، تغیر شخصیت تصدی ها محفوظ باقی مانده و در چارچوب شرکت های دولتی تحت نظارت و همآهنگی ریاست عمومی شرکت های دولتی به فعالیت های شان ادامه دهند.

مطابق به تعدیلات اخیر در قانون شرکت های دولتی، ریاست عمومي شرکت هاي دولتي افزون بر مسئولیت نظارت از کارکرد شرکت های دولتی و مشوره دهی به آنها، وظیفه دارالانشای هیئت نظارت شرکت هاي دولتي را که بالاترین مرجع تصمیم گیری در امورشرکت های دولتی می باشد، نیز به عهده دارد، این ریاست به منظور پاسخگوسازي شرکت هاي دولتي در تناسب به نیازمندي ها و مقتضیات نظام مالي کشور، بالاي برنامة اصلاحي با تمرکز روي معیاري سازي ساختار تشکیلاتي و اصلاح امور، برای به منفعت آمدن شرکت هاي دولتي و اصلاح مدیریت آنها تحت چتر وزارت مالیه ایجاد گردیده است.

رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی با رویکرد حمایتی از شرکت ها، با ارزیابی دقیق از وضعیت و شناسائی فرصت ها و ظرفیت های موجود پالیسی های حمایوی و موثر را روی دست گرفته است تا شرکت های دولتی بتوانند روی پای خویش ایستاده شوند و به خودکفائی تدریجی مالی برسند تا بتوانند به یکی از منابع اصلی تامین عواید بودجه دولت مبدل شوند و زمینه را برای اشتغال زائی و رشد پایدار اقتصادی کشور مساعد نماید.

بی هیچ شک شرکت ها شریان های اصلی درآمد دولت هستند ومی توان شرکت ها را به مثابه بال ها پرقدرت ماشین اقتصاد یک کشور حساب کرد. در موجودیت شرکت ها با ماشینری جدید وکارمندان متخصص توسعه اقتصادی سرعت می گیرد و درآمد دولت بلند می رود ودامنه فقر وبیکاری برچیده می شود. از همین رو ریاست عمومی شرکت های دولتی برای تامین رفاه اجتماعی ورشد و توسعه ی اقتصادی کشور سیستم های مدون وبدرد بخور را در همکاری با مسئولان وشرکت تنظیم و روی دست دارد.

موجودیت شرکت ها بخش از بیکاری وفقر را در کشور کاهش می دهد؛ فرض را براین بگیریم که ۵۴ تصدی دولت اگر ۱۰۰۰ کارمند داشته باشد ۵۴۰۰۰ نفرصاحب کار می شود واگر دوچند وسه چند این رقم باشد تعداد کار داران اضافه می شود وبه همین ترتیب به هرپیمانه که تعداد شرکت ها زیاد باشد به همان پیمانه تعداد زیاد نسل تحصیل کرده ودرس خوان صاحب کار می شوند. اضافه برآن، شرکت ها در چرخش اقتصاد کشور و عواید دولت نقش برازنده دارد ومی تواند یکی از منابع مهم در آمد دولت حساب شود. درنهایت می توان گفت موجودیت شرکت ها در کاهش فقر وبیکاری ودر افزایش در آمد دولت جایگاه ویژه وارزش خاص دارد.

به همین منظور ریاست عمومی شرکت های دولتی از بدو تحولات اخیر تلاش نموده است تا شرکت های دولتی را به عنوان یک چشمه جدید عایداتی برای کشور مبدل سازد تا بتواند زمینه رشد اقتصادی پایدار کشور را فراهم نماید و بودجه ملی کشور را حمایت و تقویت کند. در کل برای رسیدن به این مامول ریاست عمومی شرکت های دولتی یک سری اقدامات اساسی را روی دست گرفته است که در ذیل به آن ها اشاره می گردد.

بهبود و اصلاح مدیریت شرکتهای دولتی که یکی از اولویت هاي تعیین شدة رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی را تشکیل می دهد، اخیراً مورد تعمق و کار عملي قرار گرفته و براي دست یابی به این اولویت اقدامات زیادی صورت گرفته است.

ساختار تشکیلاتی ریاست عمومي شرکتهاي دولتي با در نظرداشت قانون شرکت هاي دولتی و بر طبق مقتضیات نهادهاي تولیدي و تجارتی اصلاح گردیده است و مشاورین و متخصصین مسلکی جهت بهبود امور شرکت های دولتی از طریق پروسۀ رقابت آزاد استخدام گردیده اند. در کل ریاست عمومی شرکت های دولتی داراي واحدهاي حقوقی، تجارتی، نظارت و ارزیابی امور مالی، دیتابیس و آی تی، اجرائیوی و انسجام و تصدی می باشد.

علاوه بر آن نماینده های تخنیکی وزارت مالیه در ترکیب هیئت مدیره شرکت‌های دولتی مشخص شده و بر مبنای آن در جریان ۹ ماه گذشته در حدود ۴۰ شرکت دولتی جلسات هیئت مدیره خود را برگزار نموده اند که در آن موضوعات مهم همانند پلان مالی سالانه، بیلانس، صورت حساب های مالی سال گذشته، تصفیه طلبات، تشکیل، امتیازات مالی کارمندان و سایر موضوعات بحث و تایید گردیده است.

از سوئی غرض بهبود و توسعه فعالیت های تجارتی شرکت های دولتی، یک سری طرح ها ترتیب گردیده است که از جمله می توان از طرح نقشه راه قبل از سرمایه گذاری، طرح طلبات شرکت های دولتی و طرح تغییر مواد قانون برای تسهیل فعالیت شرکت ها نام برد.

افزون بر آن رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی جهت احیای مجدد و بهبود فعالیت های تجارتی شرکت ها تلاش می نماید. با درنظرداشت محدودیت های کاری، در حال حاضر بالای طرح های تجارتی چند شرکت از جمله حجاری و نجاری هلمند، تخم های اصلاح شده بذری، پنبه و روغن نباتی هلمند، سپین زر کندز، نفت و گاز، فارمسی ابن سینا، نساجی نخی کندهار، افغان طور و افغان کارت کار جریان دارد.



همچنان در راستای تسهیل فعالیت ها و بازار یابی محصولات و خدمات شرکت دولتی های دولتی مانند انترکانتیننتال، طبع اسناد مصئون، سیلوی مرکز، ارزاق و کود برق مزار شریف کار می نماید.

بر مبنای قانون شرکت‌های دولتی در حدود بیش از ۴۵ مقرره، طرزالعمل، رهنمود، پالیسی و لایحه باید تسوید و طی مراحل گردد. بر همین مبنا، مطالعات در مورد تهیه این اسناد آغاز و ۹ طرزالعمل، پالیسی و لایحه به هیئت نظارت شرکت‌های دولتی ارایه که از میان ۵ مورد به تصویب رسیده است. بازنگری اسناد تایید نشده و تسوید سایر اسناد آغاز گردیده تا الی ختم سال مالی جاری تکمیل و تصویب خواهد گردید.

از آنجایکه ریاست عمومی شرکت های دولتی وزارت مالیه در تلاش است تا شرکت ها به خودکفایی مالی تدریجی برسند به همین منظور یک سری اقدامات و اصلاحات هدفمند را روی دست گرفته است که تحلیل و ارزیابی بیش از ۳۰ جلد پلان مالی، تحلیل و ارزیابی ۹۶ راپور تحقق یافته، انکشاف فارمت های پلان مالی شرکت های دولتی، ترتیب میکانیزم زمان بندی ارائه پلان های مالی و ترتیب گزارش وضعیت سه سال اخیر شرکت های دولتی در این راستا قابل ارزیابی می باشد.

در عین حال به منظور کاهش مصارف هنگام ارائه پلان های مالی پیش بینی شده شرکت های دولتی اجزای مصارف را مورد ملاحظه قرار داده در صورت مشاهده مصارف غیر ضروری که شرکت دلایل قانع کننده جهت پیشبینی آن نداشته باشند مصارف مذکور جهت پایین آوردن قیمت تمام شد امتعه تولیدی و یا هم ارائه خدمات از مجموع مصارف عمومی تنقیص می گردد.

افزون بر آن درجه بندی نمودن شرکت های دولتی بر اساس اهمیت، ضرورت و عواید آنها بخشی دیگری از دستاوردهای ریاست عمومی شرکت های دولتی در عرصه مالی را نشان می دهد.

به عنوان جمع بندی آخر بایستی یادآور شد که ریاست عمومی شرکت های دولتی اصلاحات یاد شده را بسنده ندانسته بلکه تلاش می ورزد تا روند اقدامات اصلاحی خویش را در جهت بهبود امور شرکت های دولتی تسریع بخشد تا تمام شرکت های دولتی به صورت تدریجی به خودکفائی رسیده و به منفعت برسند و به بودجه ی ملی کشور کمک نمایند.

**د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هېواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.**